افغان غورځنګ ۲۰۱۳/۰۷/۱۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ځوانو ملي خوځښتونو د یووالي اعلامیه

ډېرو درنو هېوادوالو او وطنپالو ځوانانو!

پر داسي مهال چي افغانستان د خپل تاریخ له ډېر حساس، ټاکونکي او له ګواښونو ډک پړاو څخه تېرېږي، د ځوانانو یو شمېر ملي خوځښتونو او ټولنو چي له څو کلو راهیسي یې د افغانستان د خپلواکۍ، سولي او سوکالۍ لپاره او همدارار د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتني او ټولنیزي ویښتیا لپاره په جلا جلا توګه هلي ځلي کولي، پرېکړه وکړه چي په یوه نوي جوړښت او نوي نامه سره یو ځای او یو موټی شي.

په پیل کي پرېکړه وشوه، چي د احساساتي یووالي پر ځای به لومړی ګډ کارونه پیلېږي او د فکري یووالي په اړه به د مباحثي غونډې جوړېږي. د څو میاشتو ګډو بریالیو هڅو په ترڅ کي، چي د کانکور د درغلیو پر وړاندې لاریونونه، په ګوشته کي د پاکستان د تیري او همدارار د ایران د لاسوهنو پر وړاندې لاریونونه یې یو څو بېلګي دي، شپږو خوځښتونو او ټولنو پرېکړه وکړه چي نور به له پخوانیو نومونو او جوړښتونو څخه تېرېږي او **د افغان ملي غورځنګ** په نامه نوي ملي خوځښت کي به سره یو ځای کېږي او خپل ټول امکانات او هڅي به د افغانستان د ژغورني، سرلوړۍ او سوکالۍ لپاره سره همغږې کوي. د ویښ ځوانانو غورځنګ، روهیله ځوانان، د نن ځوانانو مدني ټولنه، د پښتنو د یووالي غورځنګ، ویښ افغان ټولنیز اصلاحي تحریک او د پکتیا کوټ د ځوانانو شورا په دغه نوي غورځنګ کي سره یو ځای شوي، خو له نورو ورته خوځښتونو او ټولنو سره هم خبري رواني دي څو د یوه پیاوړي ملي غورځنګ په جوړولو کي سره یو موټی شي. ډېر زر به ټولي هغه وېب پاڼي، د فېسبوک پاڼي او ګروپونه او د هڅو نور فورمونه چي دغو خوځښتونو درلودل، د افغان ملي غورځنګ په نامه او نشان ښکلي شي. د افغان ملي غورځنګ د تګلارې اساسي کرښي زموږ د اسلامي او ملي ارزښتونو او د یو ویشتمي پېړۍ د اړتیاوو پر بنسټ تدوین شوي، خو د ډېرې جامع او هر اړخیزې تګلارې او کړنلارې پر جوړولو کار لګیا دی او په دې برخه کي به لومړی له افغان ملي، ټولنیزو، دیني او علمي شخصیتونو سره سلا کېږي او بیا به د غورځنګ په لویه غونډه کي تصویبېږي.

موږ پر ټول افغان ولس غږ کوو، چي د افغانستان د ژغورني اصلي نسخه د یوه پیاوړي ملي سنګر او غورځنګ جوړېدل دي او د دغه سنګر د جوړولو لپاره ستاسو مرستي او ملاتړ ته اړتیا ده. موږ له ټولو وطنپاله افغانانو چي غواړي د بهرنیو لاسوهنو او یرغلونو، مفسدو چارواکو او مافیایي کړیو څخه د هېواد او ولس د ژغورني په لار کي مبارزه وکړي، غوښتنه کوو چي له افغان ملي غورځنګ سره یو ځای شي او له دې لارې د یوه سرلوړي، خپلواک، یو موټي او سوکاله افغانستان د جوړولو لپاره د افغان ولس ارمان پوره کړي.

د افغان ملي غورځنګ مطبوعاتي څانګه

۱۳۹۲/۰۴/۱۸


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ